# ماشومانو مقدس کتاب

## وړاندې کونکے

# د عیسی پیدایښت



لیکونکے: Edward Hughes
خیال: M. Maillot
Alastair Paterson
خوښونکے: E. Frischbutter; Sarah S.
ترجمه کونکے: Aim4Faith Ministries
مددگار: Bible for Children
www.M1914.org

BFC
PO Box 3
Winnipeg, MB R3C 2G1
Canada

©2020 Bible for Children, Inc.
تاسو دا قيصئ نقل کولے شئ يا چاپ کولے شئ خو دا خرڅولے نۀ شئ.

ډیره موده مخکښې، خدای جبرائیل فرښته
یوې ښکلې او ځوانې جینۍ لا ولیږله
چې د هغې نوم مریم وو. فرښتې هغې
ته ووئیل، چې ستا به یو زوی پیدا
شی او ته به د هغه نوم عیسی
کیږدی. هغه به
د خدای زوی بللے
شی. او د هغه
بادشاهی به د
همیشه د
پاره وی.



" دا څنګه کیدے شی؟" جینۍ پوهتنه وکړه. زهٔ خو یو سړے هم نهٔ پیژنم. فرښتی جینۍ ته ووئیل چې دا ماشوم به د خدائ د طرف نه وی. او د دې ماشوم به انسانی پلار نهٔ وی.



فرښتې مریم ته دا هم
ووئیل چې ستا د ترهٔ
لور الیشبع هم په زوړ
عمر کښې امیدواره دا.
دا هم یوه مغجزه وه. د
دې خبرې نه پس مریم
په جلدئ سرا الیشبع
خواته ځی. او هغوئ
دواړو د خدائ ثنا
صفت بیان کړو.



د مریم د یوسف
نومی سړی سره
کویژدن شوې وه.
یوسف ډیر خفه
وو چې هغهٔ ته پته
ولګیده چې مریم
امیدواره ده، هغهٔ
دا سوچ کولو چې
د دې ماشوم پلار
خو بل څوک دے.



نو د خدائ فرښته یوسف له په
خوب کښې راغله او یوسف ته یې
ووئیل چې دا ماشوم د خدائ زوئ
دے. نو یوسف د مریم مدد کولو.



یوسف یقین لرلو او د خدایٔ اطاعت یې کولو. هغهٔ د خپل
ملک د قانون هم اطاعت
وکړو. او د نوې قانون
په مطابق هغه او
مریم د خپل
پلار کور
بیت لحم



کښې د حکومت ټیکس ادا کولو د پاره هم لاړو.

اوس د مریم د ماشوم پیدا
کیدو وخت راغلو. خو
یوسف ته چرته هم ځائ
ملاو نهٔ شو. ټوله
سرائے د خلقو نه
ډکه وه.



په آخر کښې یوسف ته یو اخور ملاو شو. چې په هغې کښې
هغه ماشوم عیسی پیدا شو. د هغهٔ
مور هغه په یو روښې کښې ونغښتلو
چې کوم ځناورو
له خوراک
ورکولے
شو.



نيزدې څۀ شپانو د خپلو رمو خفاظت کولو. د خدائ فرښته هغوئ ته څرګنده شوه او هغوئ ته يې يو حيران کونکے خبر واورولو.



چې نن د داود په ښار کښې ستاسو دپاره يو خلاصونکے
پيدا شوے دے يعنې عيسى مسيح. او
تاسو به هغه ماشوم په
روڼې کښې
انغښتے
ووينئ.



او ناڅافه دې فرښتې سره د آسمان لښکر يوه ډله راښکاره

شوه او د خدائ ثنا صفت يې بيانولو چې

په آسمان باندې دې د خدائ

ثنا وی او په



هغه خلقو د کومو

نه هغه راضی وی.



شپانهٔ زر زر د اخور طرف ته لاړل. او د
ماشوم د ليدلو نه پس چې هغوئ چا سره هم
ملاويدل نو چې فرښتو هغوئ ته کومي
خبرې کړې وې نو هغه به يې
ورته کولی.



ځلويښت ورځې وروستو، يوسف او
مريم عيسی په يروشلم کښې بيت
المقدس ته راوستلو. هلته
شمعون نومی يو بوډا
سړی دا ماشوم وليدو نو
خدائ ثنا يې ووئيله. په
دې دوران کښې يوه بله
بوډۍ ښځه وه چې نوم يې
حنا وو هغې هم د خداي
شکر ادا کړو. چې هغه په
بيت المقدس کښې د
خدائ خادمه وه.



هغوئ دواړو ته دا پته وه چې عيسی
د خدائ زوئ دے، او غواره کړے
شوے خلاصونکے دے.
او يوسف هلته دوه مرغئ
قربانی کړې. دا د خدائ
د شريعت په
مطابق د
غريبانانو
يو مشرے
د خدائ
په خضور
راوستلے شو.



ځۀ وخت پس يو اهم
ستورى د نمرخاتۀ د
ملک نه د ستورو علم
لرونکو د بيت
المقدس د



لارې رهنمائى کړې وه. د
يهوديانو بادشاه چرته پيدا شوے
دے. ځکه چې مونږ هغۀ ته
سجده کول غواړو.

هیرودیس بادشاه د ستورو
علم لرونکو په باره کښې
واوریدل. هغه خفه شو او
هغهٔ ته یې ووئیل کهٔ تا
عیسی. وموندلو نو ما هم
خبر کړه. زهٔ هم هغهٔ ته
سجده کول غواړم.



مریم چې کوم ځائ کښې وه نو ستوری د ستورو علم لرونکو صحیح رهنمائی وکړه.یوسف به هغه ماشوم سره اوسیدو. هغه ټیټ شو او هغهٔ ته یې سجده وکړه، هغهٔ عیسی له قیمتی تخفې یعنی سرهٔ زر او څهٔ لوبان هم پیش کړل.



خدایٔ د ستورو علم لرونکو
له خبردارے ورکړو چې
هغوئ په خاموشئ سره
خپلو کورونو ته واپس شی.



نو په دې وجه هیرودیس
غصه شو. او د عیسی د
قتلولو په غرض باندې هغه
ظالم بادشاه په بیت لحم کښې
ټول ماشومان ووژل.



خو هيروديس د خدائ زوئ
ته هيڅ نقصان ونهٔ رسولو.
هغهٔ په خوب کښې يې
هدايت وموندلو نو يو سف
مريم او عيسى د خفاظت
د پاره مصر ته لاړل.



چې کله هیرودیس مړ
شو نو یوسف مریم او
عیسی مصر ته واپس
راوستل.



هغوئ په وړوکی ښار کښې
د ګلیل سیند سره اوسیدل.

د عیسی پیدایښت

دَ خدائ په کلام په مقدس کتاب کښ دا قیصئ

شته دے

متی۱:۲، لوقا۱:۲

"ستا دَ خبرو تشریح نُور بخښی ۔"
زبور 130:119

ختم شو

36

60

دا قیصئ مونږ ته زمونږ د حیرانونکی خدائ په باره کښې ښودنه کوې چې چا
مونږ پیدا کړو او چې څوک غواړی چې هغه مونږ وپیژنو.

خدائ پوهیږی چې مونږ ډیر علط کارونه کړی دی، چې هغې ته هغه ګنا وایې.
د ګنا مزدوی مرګ دے خو خدائ مونږ سره ډیره مینه کوې نو ځکه هغۀ خپل
یک یو زوئ راولیږلو چې هغه زمونږ د ګناهونو د خاطره سزه وزغمې او په
سولئ خپل ځان قربان کړې.او بیا عیسی د مړو نه ژوندے شو او آسمان ته
لاړو. کۀ تۀ په عیسی باندې ایمان راوړې او د هغۀ نه د خپلو ګناهونو بخښنه
غواړې نو هغه به تا ته بخښنه وکړې. هغه تا خواته راځی او ستاسو دننه به
استوګنه کوی او تۀ به هغه سره د همیشه د پاره ژوندے اوسیږی.

کۀ تۀ په دې ایمان لرې چې دا رښتیا دی نو خدائ ته ووایه.خوږه عیسی زۀ
ایمان لرم چې هم تۀ خدائ یې. تا زما د خاطره پیدا شوې او زما د خاطره مړ
شوې او اوس تۀ د تل د پاره ژوندے یې. زما په ژوند کښې راشه او زما
ګناهونه وبخښه، چې زۀ هم د نن نه ژوندون ومومم او د همیشه د پاره تاسره یم.
زما مدد وکړه چې زۀ ستا تابعداری وکړم او ستا زوئ یا لور جوړه شم. آمین
مقدس کتاب ولولئ او خدائ سره روزانه خبرې وکړئ، یوحنا۳:۱۲